# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**10 حوت _سال 1400**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

ننگرهار ولایت چمتلي ښارکوټي کې ۳۵۹ اړمنو او بېځایه شوو کورنیو سره مرسته وشوه.----------------------------4
ده هاخانواده درولایت غور کمک نقدی دریافت نمودند---------------------------------------------------------------4
اعلامیهٔ شاروالی کابل-------------------------------------------------------------------------------------5
افغانستان د کرونا د اومیکرون بڼې د 'تشخیص امکانات' نلري ----------------------------------------------------------6
باران‌های سیل آسا ده ها هزار نفر را در استرالیا بی سرپناه کرد----------------------------------------------------7

خبرنامه

# تن کامل اخبار

## ننگرهار ولایت چمتلي ښارکوټي کي ۳۵۹ ارمنو او بېځایه شوو کورنیو سره مرسته وشوه.

د وزارت فیسبوک پاڼه



د ننگرهار ولایت د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست په همغږۍ د جین مؤسسې له لورې د ۳۵۹ اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه چې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۴۸ کیلو وریجې، ۲۰ لیتره غوړي، ۱۵ کیلو دال، ۱۵ کیلو بوره، ۱۵ کیلو لوبیا، ۲ کیلو مالگه او دوه کیلو شین چای ورکړل شوو.

یادې کورنۍ د گډ پلاوي له لورې په نښه او د مرستو لپاره وړ پیژندل شوې وې چې نن ورسره د همکارې مؤسسې له لورې مرسته وشوه.

## ده هاخانواده درولایت غور کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



برای 189 خانواده عودت کننده و ردمرزیازکشور ایران به ولایت غور، ازطریق آمریت امورمهاجرین وعودت کننده گان آنولایت به تاریخ 8 حوت سال روان مساعدت شد.
ازمیان خانواده های سروی شده، برای هریک از 65خانواده، مبلغ 26 هزارو 300 افغانی، مساعدت سازمان بین المللی مهاجرت یا IOM و برای هریک از 124 خانواده دیگر مبلغ 265 دالر امریکایی،کمک UNHCR، درهماهنگی اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.

## اعلامیهٔ شاروالی کابل

آژانس اطلاعاتی باختر



قطع کردن و یا صدمه رساندن به درخت و نهال جرم شهری پنداشته می شود!
درختان و نهال های شهر کابل از چندی به این سو توسط افراد فرصت طلب مورد تخریب، دزدی و غارت قرار گرفته است.
در پهلوی این که شاروالی کابل موضوع را به صورت جدی بررسی می کند، خواهان کمک شهروندان و به خصوص نیروهای امنیتی در زمینه نیز است که در صورت مشاهدهٔ همچو تخلفات با شاروالی کابل همکار و همسو شوند.
عاملان چنین تخلف مثل دزد و تخریب کننده، براساس فقرهٔ پنجم ماده هجده قانون شهر سازی و مسکن مکلف به پرداخت چهارچند قیمت آن، جریمه نقدی یا در نظرداشت محاسبهٔ مصرف اعاده ساحه به حالت اولی آن، خواهند شد.
سالانه، شاروالی کابل بالای یک درخت بین 2500 تا 3500 افغانی مصرف می کند که با در نظر داشت عمر درخت پس از این متخلفان مورد جریمه وجبران خساره قرار خواهند گرفت.باختر

## افغانستان د کرونا د اومیکرون بڼې د "تشخیص امکانات" نلري

د امریکا غږ




د طالبانو د حکومت د عامې روغتیا وزارت وايي، چې د روغتیا د نړیوالې ادارې "ډبلیو ایچ او" څخه د پرله پسې غوښتنو سره سره دغه وزارت تراوسه د کرونا ویروس د اومیکرون د بڼې د تشخیص امکانات نه دي ترلاسه کړي.

د دغه وزارت ویاند ډاکټر جاوید هژیر د دوشنبې په ورځ فبروری ۲۸ ( کب نهم) امریکا غږ ته وویل کله، چې په دوه ګاونډیو هیوادونو پاکستان او ایران کې د کرونا ویروس د اومیکرون د بنې مثبتې پېښې ثبت شوې د روغتیا د نړیوالې اداري څخه یې په رسمي ډول افغانستان ته د اومیکرون د بڼې د ټیست د امکاناتو د برابرولو غوښتنه وکړه خو تراوسه لا روغتیا نړیوالې اداري دا امکانات ورته نه دي برابر کړي.

ښاغلي هژیر وویل "له کله څخه چې په نړۍ کې د کرونا ویروس د اومیکرون بڼه خپره شوه او بیا کله چې د اومیکرون بڼه د افغانستان ګاونډیو هیوادونو ته ورسیدله او په پاکستان کې د اومیکرون یوه مثبته پیښه او څلور په ایران کې ثبت شوې مونږ د ایمیل له لارې په رسمي ډول د روغتیا د نړیوالې اداري څخه وغوښتل چې پنځوس زره د تشخیص کیټونه او د تشخیص وسایل راته برابر کړي."

ډاکټر هژیر وویل "ډبلیو ایچ او" ورسره د تیرې جنورۍ د میلادي میاشتې تر وروستیو پورې د دغو امکاناتو د برابرولو ژمنه کړې وه ،خو تر نن ورځې پورې چې د فبرورۍ وروستۍ ورځ ده دا امکانات افغانستان ته نه دي برابر شوي.

د روغتیا نړیوالې اداري د ځنډ د علت په اړه تراوسه څه نه دي ویلي خو ډاکټر هژیر وایي، چې دغې اداري ورته ویلي چې دا امکانات له بهرنیو هیوادونو څخه افغانستان ته برابروي.

د افغان – جاپان روغتون په کابل کې د کرونا ویروس د ناروغانو د درملنې په برخه کې فعالیت کوي د دغه روغتون سرطبیب ډاکټر احمد طارق اکبري امریکا غږ ته وویل، چې که څه دا روغتون د کرونا د ویروس د اومیکرون د بڼې د تشخیص لپاره لازم امکانات نلري خو د دوی کلینیکي معاینو پایلې دا ښیي، چې دغه روغتون ته د ورو‌ړل شوو ناروغانو ډیر یې د کرونا ویروس د اومیکرون د بڼې په ناروغۍ اخته ناروغان دي.

افغانستان کې د کرونا ویروس د وبا لومړۍ پیښه د ۲۰۲۰ میلادي کال د فبرورۍ په ۲۴ د هرات په ولایت کې ثبت شوې وه.

د عامې روغتیا وزارت شمیرنې ښیي، چې په تیرو دوو کلنوکې په افغانستان کې د کرونا ویروس نږدې نهه سوه زره مشکوک کسان معاینه شوي چې د ۱۷۴ زرو ۳۹۵ تنو پایلې مثبتې ختلې دي.

د دغه وزارت د شمیرنو له مخې تراوسه افغانستان کې د کرونا ویروس په ناروغۍ اوه زره ۹۹۳ تنه مړه شوي دي. ملګري ملتونه وایي، چې کیدای شي د کرونا پر ناروغۍ د مړو شوو کسانو شمیر به د رسمي شمیر څخه ډیر زیات وي او دا ځکه چې په افغانستان کې ډیر مړي حکومت ته د راپور د ورکولو پرته خاورته سپارل کیږي

## باران‌های سیل آسا ده ها هزار نفر را در استرالیا بی سرپناه کرد

رادیو بین المللی فرانسه



مرکز امدادرسانی استرالیا توانایی پاسخگویی به همهٔ پیام های تلفنی را از دست داده و به همین خاطر از طریق شبکه های اجتماعی از مردم برای نجات جان سیل زدگان تقاضای کمک می کند. در ایالت "کوینسلند" مقامات محلی قریب هزار مدرسه را تعطیل کردند و به میلیون ها نفر دستور دادند که در منازل خود بمانند. پیش‌بینی می شود که باران های سیل آسا همراه با توفان های قوی در هفتهٔ جاری ادامه یابند. به گفتهٔ مقامات استرالیا، "بمب بارانی" به پیشروی خود در سواحل جنوبی استرالیا همچنان ادامه می دهد .